AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش نویسندۀ مطلب میباشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۶/۰۹/۰۷

# شپیته سلنه بیسوادي، یو سلنه بودجه

## د سواد نړیواله ورځ او زموږ په ټولنه کې د سواد کچه

په ژوند کې د بریالیتوب یو راز بینا او رڼې سترګې دي. کله چې سواد نه وي، سترګې ړندې وي په هره ټولنه کې سواد او د سواد له لارې تر لاسه شوې پوهه، د هغه ځراغ حیثیت لري چې هر انسان کولای شي د ژوند تیاره لار پرې روښانه کړي او پرته له ستونزو په رڼو سترګو د ژوند پر لاره په استوار ډول قدم کیږدي.

د سپتمبر اتمه د سواد زدکړې نړیواله ورځ ده. په دې ورځو کې چې بیا د سواد د نړیوالې ورځې لمانځل او یادول را رسیدلي دي، زموږ په هیواد کې په لوړ غږ تبلیغ ور ته کیږي، مسولې اداري د نوې بودجې د تر لاسه کولو په خاطر سواد زدکړه مهمه ګڼي او په ژوند کې یې د پرمختګ تر ټولو مهم رکن ګڼي، خو په څنګ کې یې د میډیا په ځینو برخو کې داسې ارقام وړاندې کیږي چې د افغانستان د وګړو شپیته یا دري شپیته سلنه وګړي بیسواده دي او ځینې نورې رسنۍ بیا وایي چې د دې شپیته سلنه بیسواده وګړو د سواد زدکړې له پاره د معارف وزارت د بودجې یوازې یوه سلنه په نظر کې نیول شوې ده.

که یې د فورمول په ډول په نظر کې ونیسو، بیسوادي د ټولو ستونزو مور ده. کله چې سواد نه وي، مطالعه، پوهه او علم نه وي او کله چې پوهه نه وي نو د هغې ټولنې وګړي به تل له داسې ستونزو سره مخ وي، لکه اوس چې زموږ ټولنه او خلک عملاً ور سره لاس ګریوان دي.

په نړۍ کې کله چې د سواد د زدکړې ارقام وړاندې کیږي، دا پروسه مخ په ښه کیدو او بریالیتوب روانه ده. د نړۍ په کچه د باسوادو او بیسوادو ارقام داسې وړاندې شوي دي:

«د یونسکو مشرې ارینا بوکووا د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت په خپل پیغام کې ویلي دي چې اوس د نړۍ ځلور اتیا فیصده اوسېدونکي لیک لوست کولای شي ، حال دا چې په ۱۹۹۰ کال کې یوازې شپږ اویا فیصده خلک باسواده وو. ارینا بوکووا د باسواده کسانو د شمېر زیاتېدل د بشر لپاره ښه زیری بللی دی...»

خو د ټولې نړۍ په دې شپاړس سلنه بیسوادو کې زه فکر کوم چې ډیره سلنه به بیا زموږ د ټولنې بیسوادان جوړوي. که په پخواني مفهوم سره سواد یوازې لیکل او لوستل و ګڼو، د دې مفهوم په دایره کې هم زموږ په ټولنه کې د شپیته یا دري شپیته سلنه بیسوادو وګړو ارقام سم نه دي او زموږ د ټولنې د هغو کسانو شمیر چې په عادي ډول لیک لوست نه شي کولای، له دې هم لوړ دی او زه فکر کوم چې زموږ پر ټولنه باندې حالات داسې یا راغلي او یا راوړل شوي دي چې د بیسوادۍ کچه هم په عادي مفهوم سره او هم په علمي مفهوم سره ورځ تر بلې لوړیږي. او که خبره د علمي سواد، دیجتالي سواد او انټرنیټي سواد دایرې ته راوستل شي، هلته ثابتیږي چې زموږ د ټولنې د بیسوادانو ګراف به ډیر لوړ شي.

هر کال چې دا ورځ را نږدې شي مسؤلې اداري د سواد زدکړې د کورسونو شمیر او په کورسونو کې د شاملو هغو خلکو لیستونه او ارقام میډیا ته را باسي چې په کورسونو کې ناست او عملاً د سواد په زدکړه بوخت دي:

«... وزارت معارف می گوید با آنکه طی سال‌های اخیر سالانه نیم میلیون نفر در افغانستان باسواد شده‌اند، اما هنوزهم بی سوادی یکی از مشکلات عمده‌ی اجتماعی کشور به شمار می‌رود.

این وزارت با انتشار پیامی می‌گوید: «جای خوشی است که نسبت به هر وقت دیگر هموطنان ما به اهمیت سواد و علم در جامعه پی برده که سواد و علم مانند هر جامعه دیگر انسانی در افغانستان نیز یگانه راه ترقی و پیشرفت تلقی می شود که باید به‌صورت جدی تعقیب گردد. این در حالی است که متاسفانه ۸ میلیون از هموطنان ما از نعمت سواد محروم مانده‌اند.

... وزارت می‌افزاید که از سال ۱۳۸۱ بدین سو توانسته سالانه برای نیم میلیون خدمات سواد آموزی را ارایه کند. به گفته‌ی این وزارت، طی این سال‌ها، چهار میلیون اتباع افغانستان از نعمت سواد برخوردار شده‌اند. این وزارت تاکید کرده این روند در حال افزایش است. وزارت معارف می‌گوید: «در سال ۱۳۹۲ مجموعا هفت صد و هفتاد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هزار تن سوادآموز در ۲۲ هزار و ششصد باب کورس و ۷۸ باب مکتب سواد حیاتی که از طرف یازده هزار و ششصد تن معلم سوادآموزی امور تدریس آنها پیش برده می‌شود، مصروف آموختن سواد می‌باشند.»
پاس متن ته که ښه ځیر شو، لیدل کیږي چې د دوی د ادعا له مخې په خو لنډو کلونو کې یې د با سواده شوو خلکو شمیر څلور میلیونه ښودلی دی. که دا رښتیا وي، نو بیا ولې د افغان وګړو د بیسوادو شمیر شپیته سلنه ښول کیږي؟ بناً دا سمه خبره نه ده هسې د واکدارانو، نړیوالې ټولنې او خپلې ټولنې غولول دي.
د نړیوالې ټولنې د میلیونو ډالرو مرستو سره سره په افغانستان کې د سواد زدکړې پروسه یا په ټپه ولاړه ده او یا دومره پڅه ده چې سلنه یې په شمیرو کې هم نه شي راتلای. د جاپان هیواد په ۲۰۱۳ کال کې یوازې د افغانستان د پولیسو د سواد زدکړې له پاره شل میلیونه ډالره مرسته کړې.

دغه راز په افغانستان کې د سواد زدکړې د پروسې له پاره د نړیوالو مرستو ته په یو ځای کې داسې اشاره شوې ده:
« برنامه‌های سوادآموزی توسط وزارت معارف از سال ۲۰۰۸ به اینسو، به کمک مالی کشورهای جاپان و ایالات متحده امریکا در سراسر کشور آغاز شده است. دولت جاپان تاکنون برای پیش‌برد این برنامه‌ها، پنجاه میلیون دالر مساعدت کرده و قرارداد کمک بیست میلیون دالری را نیز به منظور پیش برد این برنامه‌ها، روز گذشته با سازمان علمی و فرهنگی سازمان ملل متحد، یونسکو، در کابل به امضا رساند. دولت جاپان کمک بیست میلیون دالری خود را به منظور باسواد ساختن مردم افغانستان، از طریق یونسکو به دولت افغانستان ارایه می‌کند. یونسکو در پیش‌برد مرحله سوم برنامه ارتقای سطح سواد در افغانستان، مسوولیت تامین کمک‌های تخنیکی را به عهده دارد.»
که د نړیوالې ټولنې د مرستو اندازې ته وګورو او بیا د سواد زدکړې پروسه له نظره تیره کړو، او بیا د دوی د ارقامو له مخې شپیته سلنه بیسوادو وګړو ته وګورو، نو لیدل کیږي چې هیڅ هم نه دي تر سره شوي او که اړوندو ادارو ته لومړی د نړیوالې ټولنې د مرستو لست او ارقام مخکې کیښودل شي او بیا د ښپیته سلنه بیسوادانو ټولې یې مخکې ودرول شي؛ کیدای شي اړوندې اداري نه مالي حساب ورکړای شي او نه هم کوم با سواده دلګۍ وښودلی شي چې دوی د سواد له نعمت نه برخمن کړي وي.
د جاپان هیواد یوازې د بیسوادو پولیسو د سواد زدکړې له پاره شل میلیونه ډالره مرسته کړې ده، خو اوس هم زموږ ډیری پولیس د سواد سترګې نه لري. د نورې نړۍ پولیس سواد څه چې په عصري تکنالوژۍ سمبال دي، خو زموږ پولیس عادي لیک لوست نه شي کولای. که یو شخص کنترول کړي، په اسنادو کې یې هویت په نورو ژبو څه چې په خپلو ژبو باندې یې لوستلای نه شي.
سمه خبره خو دا ده چې دوی په کوچنیوالي کې د جهاد تر چتر لاندې غلا، وژلو او ورانۍ ته نه وای لیږل شوي او حد اقل عادي سواد چې یوازې لیک لوست دی، ور زده کړل شوی وای. د ښوونې روزنې او زدکړې وخت هماغه د کوچنیوالي سن و، اوس چې سل زر نورې کورنۍ، وطني، او شخصي ستونزې ور له غاړې دي، مسولین هیله ور نه کوي چې د سواد زدکړې ته ګونډه و وهي.
هر کال چې د سواد نړیواله ورځ را نیږدې شي، د معارف وزارت او نورې اړوندې اداري په شعارې ډول د سواد د زدکړې او د سواد د پراختیا او عامیدو په نامه ستونې شکوې داسې لکه په سواد چې میینان وي. دې متن ته پام وکړئ:
«... بی‌سوادی یکی از مشکلات عمده اجتماعی بوده که جامعه را از نعمات زندگی محروم نموده و از پیشرفت وا می دارد. بنا امحای بی سوادی در جامعه مستلزم همکاری و مبارزه مشترک تمام افراد آن جامعه بوده و از نقطه نظر دین نجات بخش و هدایت‌کننده اسلام نیز محو بی سوادی و طلب علم فریضه الهی می باشد، فریضه ای که نسبت به هر کسی دیگر، مردم ما به آن ضرورت بیشتر دارد.»
خو څنګه چې دا ورځ تیره شوه بیا نه سواد د چا په یاد وي، نه د سواد د زدکړو په کورسونو پسې څوک ګرځي او نه یې د سواد اهمیت په یاد وي، که یې په یاد وای او څوک د هغو پروګرامونو په تطبیق پسې ګرځیدای، نو نن به دا بد مرغي پر ټولنه او خلکو باندې حاکمه نه وای.
د اوسني دولت ډیری لوړ رتبه اشخاص چې د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت، د سواد په باب عما نه، بلکې یوازې خبرې کوي؛ ټول په هغو ټوپکې ډلو پورې اړه لري چې یو وخت یې د سواد د زدکړو کورسونو ته کفري کورسونه ویل، ښوونځي یې سوځول، خلک یې کورسونو ته له ورتګ نه منع کول او د ښوونکو وژل او حلالول یې ثواب ګڼل؛ خو نن د نړیوالې ټولنې د مرستو د تر لاسه کولو له پاره او د خپل واک او ځواک د ساتلو په غرض سواد مهم ګڼي.
واک ته د دوی له راتګ نه پخوا، کوم کورسونه او پروګرامونه چې د سواد د زدکړې له پاره جوړ شوي وو، که په هماغې بڼې یې خپل کار او پروګرام پر مخ بیولی وای او همدې ټوپکې ډلو په بیلابیلو نومونه مزاحمت نه وای ور ته کړی، اوس به په افغانستان کې دا ستونزه نه وای موجوده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که دولت او د ټولنې چیز فهمه خلک غواړي چې د بیسوادۍ ریښې وچې کړې، نو ښونځي ته دې د هغو ټولو کوچنیانو شاملیدل او ورتګ وړیا او اجباري کړي، چې ښوونځي ته د تګ سن او شرایط ولري.
دا په یاد ولرئ چې د سواد زدکړه یوازې دا نه ده چې د لوړ سن درلودونکي هغه کسان د سواد زدکړې ته کینوو چې سواد نه لري، او په کوچنیانو یا څاروي وپیایو، یا یې کار او ګدایي ته ولیږو او یا یې جګړې او جهاد ته تشویق کړو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ